
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 391**

(22-28 اسد 1401 هـ ش)

# د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو ترمنځ اقتصادي او تجارتي اړیکې؛ ستونزې او حل لارې




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو ترمنځ اقتصادي او تجارتي اړیکې؛ ستونزې او حل لارې

له ګاونډیو هېوادونو سره د افغانستان اقتصادي او سوداګریزې اړیکې هم د افغانستان او هم د ګاونډیو هېوادونو لپاره خورا مهمې دي. دا چې افغانستان په وچه کې راګیر هېواد دی، نه یوازې دا چې تر ټولو ډېر تجارت یې له ګاونډیو هېوادونو سره دی، بلکې له نړۍ سره د سوداګرۍ لپاره هم تل پر خپلو ګاونډیو هېوادونو متکي دی. په ورته وخت کې افغانستان بیا د ګاونډیو هېوادونو په ځانګړې توګه پاکستان او ایران لپاره یو مهم بازار دی. سره له دې چې په وروستیو کلونو کې د سوداګرۍ او ټرانزیټ په برخه کې پر پاکستان تکیه راکمه شوې ده.

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د شمېرو له مخې، په ۲۰۲۰م کال کې د افغانستان د تجارت مجموعي کچه کابو ۶,۴ ملیارده ډالره وه، چې ۷۵۴ ملیون ډالره یکې صادرات او ۵,۶۳ میلیارده ډالره هم یکې واردات وو. تر ټولو ډېر واردات له ایران، چین، پاکستان، قزاقستان، ازبکستان او هندوستان څخه شوي وو. په بل اړخ کې بیا هندوستان، پاکستان او چین ته تر نورو زیات صادرات شوي وو.

د تېر ۲۰۲۱م کال له اګست راهیسې کله چې پخوانی حکومت سقوط شو، پر نوي سرپرست حکومت د نړیوالو بندیزونو له کبله دا وضعیت له خنډونو سره مخ شو. د بېلګې په توګه وروستي آمار ښیي چې یوازې له پاکستان سره د تجارت کلنۍ کچه له ۲,۵ ملیارده ډالرو څخه ۱ ملیارد ډلرو ته راښکته شوې ده، چې یو ستر لامل یې هم د دوستانه پالیسیو نشتون او په افغانستان کې د بانکي سیستم ستونزې دي. همدا راز له ایران سره هم د تجارت کچه لړ تر لړه ۲۰ سلنه راکمه شوې او په تېر ۱۴۰۰ لمریز (۲۰۲۱م) کال کې ۱,۸ ملیارده ډالرو ته رسېدلې ده. که د ایران او افغانستان ترمنځ د ۲۰۲۱م کال د لومړي فصل تجارت د ۲۰۲۲م کال د لومړي فصل له تجارت سره پرتله کړو، نو ښکاري چې یوازې په دې یوه فصل کې د تجارت کچه د تېر کال په پرتله ۳۵ سلنه راټیټه شوې ده.

که څه هم افغانستان په سیمه کې د خپل ځانګړي جغرافیایي موقعیت له کبله د تجارت او ټرانزیټ په برخه کې خورا زیات اقتصادي فرصتونه لرلی شي، ځکه دا هېواد د مرکزي آسیا او د آسیا د جنوب ترمنځ د یوه ارتباطي پل حیثیت



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

لري؛ خو په هېواد کې دوامداره سياسي او امنيتي بې ثباتي د دې لامل شوې چې له ګاونډيو هېوادونو سره په اقتصاد، تجارت او ترانزيټ برخو کې تل ستونزې موجودې وي. اوسمهال چې افغانستان تازه د يوه نسبي امن خوا ته تللی او په ورته وخت کې له جدي اقتصادي بحران سره هم مخ دی، له ګاونډيو هېوادونو سره اقتصادي او تجارتي اړيکې د دغه بحران په کنټرول کې خورا مهم رول لري او اړتيا ده چې په بېلابېلو کچو کې بحثونه پرې وشي.

له ګاونډيو هېوادونو سره اقتصادي او تجارتي اړيکې د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په کابل کې «د افغانستان او ګاونډيو هېوادونو ترمنځ د اړيکو راتلونکی» تر عنوان لاندې وروستي ګډ څېړنيز سمينار له پنځو محورونو څخه يو مهم محور و، چې پکې د افغانستان او ګاونډيو هېوادونو لسګونه علمي او متخصصو شخصيتونو د خپلو علمي مقالو وړاندې کولو  له لارې بحثونه وکړل. د دغو بحثونو په پايله کې دا موضوع په هراړخيز ډول څېړل شوې او په پايله کې يې اړوندو پاليسي جوړوونکو لورو ته سپارښتنې شوې دي. دلته دا سپارښتنې د بحثونو له جزئياتو پرته د اړوندو لورو د ګټې اخيستنې لپاره وړاندې شوې دي:

**د افغانستان او ګاونډيو هېوادونو ترمنځ اقتصادي او تجارتي اړيکې؛ د اړوندو لورو لپاره سپارښتنې:**

- تر هر څه دمخه، امنيتي ثبات د سوداګرۍ او اقتصادي فعاليتونو لپاره تر ټولو لومړی او مهم شرط دی او اوس چې په افغانستان کې نسبي امنيت راغلی دی، بايد له دغه وضعيت څخه مثبته ګټه واخيستل شي او د افغانستان او ګاونډيو هېوادونو ترمنځ اقتصادي او تجارتي فعاليتونه زيات او اسانه کړل شي.
- پر اوسني سرپرست حکومت د لګېدلو بنديزونو له کبله له نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ په برخه کې بېلابېلې ستونزې رامنځته شوې دي، چې تر ټولو ډېر زيان يې عامو خلکو ته رسېږي، له دې کبله له ټولو اړوندو لورو غوښتنه کېږي چې د دغو بنديزونو د لرې کېدو لپاره لاس په کار شي.
- د افغانستان او ګاونډيو هېوادونو ترمنځ د بې باورۍ د بحران او سياسي ستونزو له کبله هم ترانزيټي سوداګري خورا زياته اغېزمنه شوې، چې بيا يې هم زيان يې عامو خلکو ته رسېږي، له دې کبله بايد په ټولو هېوادونو کې د اعتماد جوړونې لپاره کار وشي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

- افغانستان او د سیمې ټول هېوادونه تر خپل منځ پراخو اقتصادي او تجارتي همکاریو لپاره یو بل ته اړتیا لري او حکومتونه باید په دې برخه کې اړین ګامونه اوچت کړي او په دغو برخو کې شته ستونزې له منځه یوسي.
- اقتصادي، سوداګریزې او ترانزیټي همکارۍ د سیمې د ټولو هېوادونو د اقتصادي، سیاسي او امنیتي ثبات لامل کېږي او باید هڅه وشي چې اقتصاد او تجارت له سیاست څخه اغېزمن نه شي.
- د هېوادونو ترمنځ درې ډوله سوداګري کېږي، چې لومړی یې ترانزیټي سوداګري ده، دویم یې هم دوه اړخیزه سوداګري ده، او دریم یې هم غیرقانوني یا قاچاقي سوداګري ده. په دغو درې واړو برخو کې ستونزې شته دي او باید دغو درې واړه تجارتونو ته توجه وشي، ترڅو سوداګري قانونمنده او ستونزې یې راکمې شي.
- د افغانستان-پاکستان، افغانستان-ایران، او افغانستان-منځنۍ آسیا هېوادونو ترمنځ د آزاد تجارت د زونونو (Free Trade Zones) جوړول ښایي بېلابېلې ګټې له ځان سره ولري، هلته په ګډه تولیدات او راکړه ورکړه وشي او مالیات ورباندې نه وي. څکه نو په دې برخه کې ګام اوچتول د ټولو لورو په ګټه ده او باید په دې برخه کې اقدام وشي.
- ایران هر کال ۸ میلیارد ډالره یوازې د خوراکي توکو واردات لري، خو ډېره کمه برخه یې له افغانستان او پاکستان څخه واردېږي. ایران له دوه تر درې ملیارده ډالره پورې له افغانستان څخه د زراعتي توکو واردات لرلی شي او بالمقابل ایران د سیمې په کچه د انرژۍ د سترو ذخایرو لرونکی هېواد دی، خو له بده مرغه په دغو برخو کې هغسې چې لازمه ده همکارۍ نشته او ښکاري چې دغو هېوادونو د یو بل اقتصادونه سم نه دي پېژندلي او یا د نورو عواملو تر فشار لاندې دي. د بېلګې په توګه ایران د ګازو لوله د پاکستان تر پولې رسولې، خو د امریکا د فشارونو له کبله یې پراختیا نه ده موندلې. همدا راز د افغانستان او ایران ترمنځ هم دلته د بهرنیانو حضور خنډونه جوړول. اوس چې په سیمه کې د امریکا حضور ختم شوی، اړتیا ده چې د ټولو ګاونډیو هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکې پیاوړې او له سیاسي مسایلو هاخوا پراختیا ومومي.
- د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ترانزیټ او سوداګرۍ تړون (APTTA) په اړه باید په هرو لسو کلونو کې یو ځل خبرې اترې وشي، چې تېر ځل په ۲۰۱۰ کال کې دا تړون شوی او اوس یې وخت دی چې په دې اړه بیا له سره خبرې وشي، څکه سره له دې چې د دغه تړون د تطبیق په برخه کې ستونزې او نیمګړتیاوې شته

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

دي، خو دا ترون لاهم د دوه اړخیز تجارت او ټرانزیټ لپاره یو اغېزناک چوکاټ دی. نړیوال کنوانسیونونه او په ځانګړې توګه په وچه کې د راګیر هېوادونو لپاره نړیوال مروج دودونه باید په پام کې ونیول شي ترڅو د عدم توازن له منځه وړلو او د پاکستان له لارې او بالعکس پاکستان ته تجارت او ټرانزیټي سوداګري اسانه، ډاډمنه او پام وړ اسانتیاوې ورته برابرې شي.

- د دواړو حکومتونو تمرکز د تېرو څو لسیزو په اوږدو کې په پراخه کچه سیاسي شوی، دا تمرکز باید بدل شي. له ټرانزیټي تجارت سره باید له سیاسي انګېزو هاخوا چلند وشي. له دې سره سره، د پاکستان له لارې د افغانستان سوداګرۍ او ټرانزیټ سیاسي او دیپلوماتیک ملاتړ ته اړتیا لري. ننګونو، خنډونو او ستونزو ته باید په عاجل ډول ځواب ورکړل شي او بنسټیز ملاتړ چمتو شي ترڅو يې اغېزې او زیانونه عامو خلکو ته ونه رسېږي.
- د پولو ترل باید د دوه اړخیز توافق او د وړاندوینې وړ میکانیزم له لارې تنظیم شي ترڅو سوداګر (دواړه افغان او پاکستاني) متوجه وي او له نامعلومو مالي زیانونو څخه ځان وژغوري.
- پاکستان ته دې د منځنۍ اسیا بازارونو ته غیر مشروط لاسرسی ورکړل شي او برعکس افغانستان ته دې د سویلي اسیا بازارونو په ځانګړې توګه د هند بازار ته غیر مشروط لاسرسی ورکړل شي. په واګه بندر کې اوسنی وضعیت د تجارت له ګډوډۍ او ستونزو سره مخ کولو پرته بل څه نه دي. له همدې کبله، دا وړاندیز هم شته دی چې دواړه حکومتونه دې هرې سیمې ته د لاسرسي لپاره ټولې تعرفې او نور خنډونه لرې کړي.
- موسمي تعرفې چې له لسیزو راهیسې دود دي، باید لرې کړل شي. د اسانه خرابېدونکو توکو (لکه د افغانستان له لورې د تازه مېوو صادرات) نړیوال معیارونه باید په پام کې ونیول شي، او هغو لاریو ته چې په اسانه خرابېدونکي مالونه لېږدوي باید د عادي توکو په پرتله لومړیتوب ورکړل شي او د هغوی په ځانګړو موسمونو کې تعرفې پرې ونه لګېږي.
- له ګاونډیو هېوادونو سره په تجارتي او اقتصادي اړیکو کې همدا راز د سوداګریزو لارو متنوع کول هم بل مهم ګام دی، ترڅو د ټرانزیټي سوداګرۍ او نړیوال بازار ته د لاسرسي لپاره یوازې پر یوه هېواد تکیه راکمه کړي. له همدې کبله افغانستان ته پکار ده چې له ایران سره هم د ټرانزیټي سوداګرۍ لپاره یو هر اړخیز ترون لاسلیک کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

- د خطر د مدیریت اغېزناک سیستم باید د کیوټو کنوانسیون (RKC) له معیارونو سره سم تطبیق شي او ټول اړخونه باید له اپټا ۲۰۱۰ سره سم د متقابلو توافقاتو له مقرراتو سره ځان تړلی وګڼي. د بدیلونو لټول یا د اجازې له کچې څخه بهر تلل د دوه اړخیزو اقتصادي اړیکو د ګډوډولو او ویجاړولو لامل کېدای شي او پر سوداګرو د اضافي لګښتونو لامل کېږي.
- په اپټا تړون کې د شخړو له مېکانېزم څخه تل ناسمه استفاده شوې او د دغه تړون له مخې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ترانزیټي سوداګرۍ د همغږۍ اداره (APTTCA) د شته ستونزو د هوارې لپاره اغېزناکه اداره نه ده، بلکې د شخړو د هوارې پر میکانیزم باید بیاکتنه وشي او د سوداګرۍ او ټرانزیټي سوداګرۍ اړوند راپورته کېدونکو جنجالونو او قضایاوو د حل لپاره باید یوه اغېزناکه اداره جوړ شي.
- د پاکستان په بندرونو کې په ګمرکونو کې د کانتېنرونو بارول او کښته کول او د ګمرکونو د تصفیې سیسټم باید د اپټا ۲۰۱۰ تړون له احکامو سره سم تنظیم شي، او یوه داسې ماده باید په تعدیل شوې نسخه کې داخله شي چې د ګمرکونو د چارو اسانه سیسټم یقیني کړي.
- دواړه هیوادونه اړ دي چې داډ ترلاسه کړي چې د متخصصینو په کچه پوهه لرونکي کسان د پروسو اسانه کولو لپاره وګومارل شي، ځکه سوداګري او ټرانزیټ خورا تخصصي ساحه ده. د متخصصینو ګمارل به د مسلو لپاره په اسانه توګه حل موندلو کې هم مرسته وکړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

---

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**له موږ سره اړیکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com  info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: ۰۷۰۰۳۳۰۵۷+۹۳